AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ناروغ، ولی ۲۰۲۱/۰۱/۲۵

# غزل

زړه مې تنګ دی، زړه مې تنګ دی، زړه مې تنګ
د تورخم د غره ډبره مې تر څنګ

هره ورځ د ننګ تندی پرې داغومه
خزره واوره دا تور داغ دئ د پرنګ

یا ښکاري په نښه ویشتئ نام و ننګ دی
یا تور لمر دی راختلی په سالنګ

توري شپې دي څنګ په څنګ سره ګنډلي
یا د ورځي له رخساره تللی رنګ

یا مابنام د فلسطین شو بې سهاره
یا کعبه کې سپین طواف وهلی زنګ

له کابله تر بغداده مې زړه شین شو
لکه ګل د کربلا په وینو رنګ

یا عیسی دئ له موسی سره راغلی
یا د خدای سپینه لمنه شوه په رنګ

ناروغ، ولی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ